# دافغانستان اسلامي جمهوریت
## دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

## فوق العاده گڼه

- د دولتي عالي رتبه مقاماتو د معاش د تنظیم قانون
- د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس د معاش او لګښتونو د تنظیم قانون

- قانون تنظیم معاش مقامات عالی رتبه دولتی
- قانون تنظیم معاش و مصارف رئیس جمهوری اسلامی افغانستان


دخپرېدو نېټه: د۱۳۹۲ هـ .ش کال د لړم دمیاشتې(۸)
پرله پسې نمبر: (۱۱۲۱)

تاریخ نشر: (۸) عقرب سال ۱۳۹۲ هـ . ش
نمبر مسلسل: (۱۱۲۱)

**در این شماره :**


۱- قانون تنظیم معاش مقامات عالی رتبه دولتی از صفحه (۱ــ۱۰).

۲- قانون تنظیم معاش و مصارف رئیس جمهوری اسلامی افغانستان صفحه (۱۱_۲۱).



د امتیــاز خاوند: د عدلیــې وزارت

مسئول چلوونکی: قانونمل محمدرحیم "دقیق"

۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

د دفتر تیلفون: ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹

مرستیــال: نورعلم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸

مهتمــم: محمد جان ۰۷۸۳۳۰۶۹۸۲

وب سایت:

قیمت این شماره: (۳۰) افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، چهارراهی پشتونستان، کابل

د دولتي عالي رتبه مقاماتو د معاش د تنظيم د قانون د توشېح په هکله،

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس

فرمان

ګڼه: (۴۷)

نېټه: ۱۳۹۲/۵/۱٦

لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون د (٦۴) مادې د (۱٦) فقرې د حکم له مخې، د دولتي عالي رتبه مقاماتو د معاش د تنظيم قانون چې د ملي شوري د مجلسينو د ګډ هيئت د ۱۳۹۲/۴/۳۰ نېټې (۹۷) ګڼې پرېکړې پربنسټ، په (۴) فصلونو او (۱۳) مادو کې تصويب شوی دی، توشېح کوم.

دوه يمه ماده:

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ، له قانون او د ملي شوري د مجلسينو ګډه هيئت له پرېکړې سره يوځای دې، په رسمي جريده کې خپور شي.

حامد کرزی

دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس

فرمان

رئيس جمهوری اسلامی

افغانستان

در مورد توشيح، قانون تنظيم معاش مقامات عالی رتبه دولتی

شماره: (۴۷)

تاريخ: ۱۳۹۲/۵/۱٦

مادۀ اول:

به تأسی از حکم فقرۀ (۱٦) مادۀ (٦۴) قانون اساسی افغانستان، قانون تنظيم معاش مقامات عالی رتبه دولتی که براساس فيصلۀ شماره (۹۷) مؤرخ ۱۳۹۲/۴/۳۰ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی به داخل (۴) فصل و(۱۳) ماده تصويب گرديده است، توشيح می دارم.

مادۀ دوم:

اين فرمان از تاريخ توشيح نافذ، همراه با قانون و فيصلۀ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی در جريدۀ رسمی نشر گردد.

حامد کرزی

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شورىٰ

فيصله

د دولتي عالي رتبه مقاماتو د معاش د تنظيم قانون

ګڼه: (۹۷)

نېټه: ۱۳۹۲/۴/۳۰

د افغانستان د اساسي قانون د سلمې مادې له درج شوي حکم سره سم، د ملي شورىٰ د دواړو غونډو له اوو، اوو غړو څخه جوړ شوي ګډ هيئت د دولتي عالي رتبه مقاماتو د معاش د تنظيم قانون په (۴) فصلونو او (۱۳) مادو کې د ۱۳۹۲ کال د چنګاښ د مياشتې په ۳۰ نېټې د يکشنبې د ورځې په غونډه کې فيصله کړ.

د ګډ هيئت رئيس

مولوي عبدالوهاب عرفان

د ګډ هيئت مرستيال

څارنيال محمد سرور عثماني فراهي

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

فيصله

قانون تنظيم معاش مقامات عالی رتبه دولتی

شماره: (۹۷)

تاريخ: ۱۳۹۲/۴/۳۰

به تأسی از حکم مندرج مادۀ صدم قانون اساسی افغانستان، هيئت مختلط مجلسين شورای ملی به ترکيب هفت، هفت نفر از اعضای هر جرگه قانون تنظيم معاش مقامات عالی رتبه دولتی را به داخل (۴) فصل و (۱۳) ماده در جلسۀ روز يکشنبه مؤرخ ۳۰ سرطان سال ۱۳۹۲ فيصله نمود.

رئيس هيئت مختلط

مولوی عبدالوهاب عرفان

معاون هيئت مختلط

څارنيال محمد سرور عثمانی فراهی

## فهرست مندرجات

## قانون تنظیم معاش مقامات عالی رتبه دولتی

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۱ |
| مادۀ دوم: | هدف | ۱ |

**فصل دوم**

**اندازۀ معاش مقامات عالی رتبه دولتی**

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ سوم : | معاش مقامات دولتی | ۲ |
| مادۀ چهارم: | معاش قضات | ۳ |

**فصل سوم**

**حقوق مالی بعد از ختم دورۀ خدمت**

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ پنجم: | حقوق مالی | ۴ |
| مادۀ ششم: | تأمین امنیت | ۶ |
| مادۀ هفتم: | خدمات صحی | ۶ |
| مادۀ هشتم: | استفاده از پاسپورت سیاسی | ۷ |

## فصل چهارم

## احکام متفرقه


مادۀ نهم: امتیاز کادر علمی.................................۷

مادۀ دهم: وضع مالیه و سهمیۀ تقاعد..........................۸

مادۀ یازدهم: دورۀ تعلیق.........................................۹

مادۀ دوازدهم: افزایش ویا کاهش معاش.........................۹

مادۀ سیزدهم: تاریخ انفاذ........................................۱۰

## د دولتي عالي رتبه
## مقاماتو د معاش د تنظیم
## قانون
## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د یوسلو شپږ ویشتمې او یوسلو پنځه پنځوسمې مادې د حکم له مخې، وضع شوی دی.

**موخه**

**دوه یمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱- د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس د مرستیالانو، وزیرانو، د ملي شورې او سترې محکمې د رئیسانو او غړو، قضاتو او لوی څارنوال د معاش د اندازې ټاکل.

۲- د خدمت له دورې وروسته د سترې محکمې درئیس اوغړو دمالي حقوقو ټاکل.

## قانون
## تنظیم معاش مقامات عالی رتبه
## دولتی
## فصل اول
## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این قانون به تأسی از حکم مواد یکصدو بیست وششم و یکصدوپنجاه وپنجم قانون اساسی افغانستان، وضع گردیده است .

**هدف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این قانون عبارت است از:

۱-تعیین اندازۀ معاش معاونین رئیس جمهوری اسلامی افغانستان، وزراء، رؤسا واعضای شورای ملی وستره محکمه، قضات ولوی څارنوال.

۲-تعیین حقوق مالی رئیس و اعضای ستره محکمه بعد از ختم دورۀ خدمت.

## دوه یم فصل

## د دولتي عالي رتبه مقاماتو د معاش اندازه

**د دولتي مقاماتو معاش**

**دریمه ماده:**

(۱) د دولتي عالي رتبه مقاماتو د معاش اندازه د ملکي خدمتونو دمامور دلـــوړ بست د میاشتني معاش پربنسټ، له احوالو سره سم په لاندې ضریبونو سره محاسبه او ټاکل کېږي:

۱- د جمهور رئیس مرستیالان (۸/۵).

۲- د ملي شورىٰ رئیسان (۷).

۳- د سترې محکمې رئیس (۷).

۴- وزیران (٦).

۵- د ملي شورىٰ غړي (٦).

٦- د سترې محکمې غړي (٦).

۷- لوی څارنوال (٦).

**د قضاتو معاش**

**څلورمه ماده:**

د قضاتو د معاش اندازه د ملکي خدمتونو د مامور د لوړ بست د میاشتني معـــاش

## فصل دوم

## اندازۀ معاش مقامات عالی رتبه دولتی

**معاش مقامات دولتی**

**مادۀ سوم:**

(۱) اندازۀ معاش مقامات عالی رتبه دولتی به اساس معاش ماهوار بلند ترین بست مامورخدمات ملکی حسب احوال، بـــا ضریب های ذیـــل محاســـبه و تعیـــین می گردد:

۱- معاونین رئیس جمهور (۸/۵).

۲- رؤسای شورای ملی (۷).

۳- رئیس ستره محکمه (۷) .

۴- وزراء (٦).

۵- اعضای شورای ملی (٦).

٦- اعضای ستره محکمه (٦).

۷- لوی څارنوال (٦).

**معاش قضات**

**مادۀ چهارم :**

اندازۀ معاش قضات به اساس معاش ماهوار بلند ترین بست مامور خدمات ملکـــی

پربنسټ له احوالو سره سم، په لاندنيو ضريبونو سره محاسبه او ټاکل کېږي:

۱- د استيناف د محکمو رئيسان، قضايي مستشاران او د سترې محکمې د مرکزي ادارو رئيسان چې د قضايي انسلاک لرونکي وي، (۴).

۲- د استيناف د محکمو د ديوانونو رئيسان او د ابتدائيه محکمو رئيسان (۳/۵۰).

۳- د وثايقو د محکمو آمران او د سترې محکمې د مرکزي رياستونو مسلکي غړي او د استيناف د محکمو د ديوانونو غړي (۳).

۴- د ابتدائيه محکمو د ديوانونو غړي (۲/۵۰).

۵- د ابتدائيه محکمو د ديوانونو رئيسان (۳).

۶- د ابتدائيه محکمو او د وثايقو محکمو قاضيان (۲/۵۰).

حسب احوال، باضريب های ذيل محاسبه و تعيين می گردد:

۱-رؤسای محاکم استيناف، مستشاران قضائی و رؤسای ادارات مرکزی ستره محکمه که حايز انسلاک قضائی باشند، (۴).

۲- رؤسای ديوان های محاکم استيناف ورؤسای محاکم ابتدائيه (۳/۵۰).

۳-آمرين محاکم وثايق و اعضای مسلکی رياست های مرکزی ستره محکمه و اعضای ديوان های محاکم استيناف (۳).

۴- اعضای ديوان های محاکم ابتدائيه (۲/۵۰).

۵- رؤسای ديوان های محاکم ابتدائيه (۳).

۶- قضات محاکم ابتدائيه و محاکم وثايق (۲/۵۰).

## دریيم فصل

## د خدمت د دورې له پای ته رسېدو وروسته مالي حقوق

**مالي حقوق**

**پنځمه ماده:**

(۱) د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس مرستيالان، او د ملي شورئ د مجلسينو رئيسان او غړي له دندې څخه د عزل د حالت په استثنئ، د خدمت دورې تر پای ته رسېدو وروسته ژوندانه د پاتې مودې لپاره، دلاندې امتيازونو مستحق کېږي:

۱- د امنيت تأمينول.

۲- روغتيايي خدمتونه.

۳- له سياسي پاسپورت څخه ګټه اخيستنه.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي امتيازاتو لګښتونه د چارو د ادارې او وزيرانو شورئ د دارالانشاء د عمومي رياست د بودجې له لارې تنظيم او اجراء کېږي.

(۳) د سترې محکمې رئيس او غړي، له

## فصل سوم

## حقوق مالی بعد از ختم دورۀ خدمت

**حقوق مالی**

**مادۀ پنجم:**

(۱) معاونين رئيس جمهوری اسلامی افغانستان رؤسا و اعضای مجلسين شورای ملی به استثنای حالت عزل از وظيفه، بعد از ختم دورۀ خدمت برای بقيه مدت حيات مستحق امتيازات ذيل می گردند:

۱- تأمين امنيت.

۲- خدمات صحی.

۳- استفاده از پاسپورت سياسی.

(۲)مصارف امتيازات فقرۀ(۱) اين ماده از طريق بودجۀ رياست عمومی ادارۀ امور ودارالانشای شورای وزيران تنظيم و اجراء می گردد.

(۳)رئيس و اعضای ستره محکمه به

دندې څخه د عزل د حالت په استثني، د دندې د دورې تر پای ته رسېدو وروسته د ژوندانه د پاتې مودې لپاره، د لاندې مالي حقوقو مستحق کېږي:

۱- په دې قانون کې درج ټاکل شوی معاش.

۲- مناسب استوګنځی د هغهٔ د ساتنې او څارنې له تأمینېدو سره.

۳- د امنیت تأمینول.

۴- روغتیایي خدمتونه.

۵- له سیاسي پاسپورټ څخه ګټه اخیستنه.

(۴) ددې مادې په (۳) فقره کې درج شوي مالي حقوق، د قضائیه قوې د اداري عمومي آمریت له لارې تنظیم او اجراء کېږي.

(۵) ددې مادې په (۱ او ۳) فقره کې درج شوي مالي حقوق، د دندې د اشتغال (بوختیا)، له مدني حقوقوڅخه د حرمان په محکومیت او د تابعیت د پرېښودلو په حالت کې قطع کېږي.

استثنای حالت عزل از وظیفه بعد از ختم دورهٔ خدمت برای بقیه مدت حیات مستحق حقوق مالی ذیل می گردند:

۱-معاش معینه مندرج این قانون.

۲- مسکن مناسب با تأمین حفظ و مراقبت آن .

۳ – تأمین امنیت.

۴- خدمات صحی.

۵- استفاده از پاسپورت سیاسی.

(۴) حقوق مالی مندرج فقرهٔ (۳) این ماده از طریق آمریت عمومی اداری قوهٔ قضائیه، تنظیم و اجراء می گردد .

(۵)حقوق مالی مندرج فقره های (۱و۳) این ماده در حالت اشتغال به وظیفه، محکومیت به حرمان از حقوق مدنی و ترک تابعیت قطع می گردد.

## د امنيت تأمينول

**شپږمه ماده:**

د جمهوري رياست د محافظت او د برجسته رجالو د محافظت رياست مکلف دي، له اړتيا سره سم د جمهور رئيس د مرستيالانو، د ملي شورىٰ د رئيسانو، د سترې محکمې د رئيس او غړو امنيت او د کورنيو چارو وزارت مکلف دی د ملي شورىٰ د غړو امنيت تأمين کړي.

## روغتيايي خدمتونه

**اوومه ماده:**

د عامې روغتيا وزارت مکلف دی ددې قانون په پنځمه ماده کې درج شوو مقاماتو لپاره په وړيا توګه روغتيايي خدمتونه برابر کړي.

## له سياسي پاسپورت څخه ګټه اخيستنه

**اتمه ماده:**

د بهرنيو چارو وزارت مکلف دی، ددې قانون په پنځمه ماده کې د درج شوو مقاماتو د سفر په وخت کې، د اړوندو

## تأمين امنيت

**مادۀ ششم:**

رياست محافظت رياست جمهوری و رياست محافظت رجال برجسته مکلف است، حسب ضرورت امنيت معاونين رياست جمهوری، رؤسای مجلسين شورای ملی، رئيس و اعضای ستره محکمه و وزارت امور داخله مکلف است امنيت اعضای شورای ملی را تأمين نمايند.

## خدمات صحی

**مادۀ هفتم:**

وزارت صحت عامه مکلف است خدمات صحی را به صورت رايگان برای مقامات مندرج مادۀ پنجم اين قانون فراهم نمايد.

## استفاده از پاسپورت سياسی

**مادۀ هشتم:**

وزارت امور خارجه مکلف است، حين مسافرت مقامات مندرج مادۀ پنجم اين قانون پاسپورت سياسی را طبق

تقنيني سندونو مطابق سياسي پاسپورت د هغوی په واک کې ورکړي او د ويزې په اخيستلوکې مرسته وکړي.

## څلورم فصل

## متفرقه حکمونه

**د علمي کادر امتياز**

**نهمه ماده:**

په دې قانون کې درج شوي مقامات د اړوندو تقنيني سندونو مطابق له علمي کادر څخه له رامنځته شوو مالي امتيازونوڅخه هم برخمن کېږي.

**د ماليې او د تقاعد د ونډې وضع کول**

**لسمه ماده:**

(۱) په دې قانون کې د درج شوو عالی رتبه مقاماتو معاش د قانون د حکمونو مطابق، د ماليې د ورکړې تابع دی.

(۲) د سترې محکمې د رئيس او د غړو معاش د خدمت په دوره کې او وروسته له هغې، د قانون د حکمونو مطابق، د ماليې د ورکړې تابع دی.

اسنادتقنينی مربوط به دسترس آنها قرار داده و در اخذ ويزه همکاری نمايد.

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

**امتياز کادر علمی**

**مادۀ نهم:**

مقامات مندرج اين قانون ازامتيازات مالی ناشی از کادر علمی طبق اسناد تقنينی مربوط نيزمستفيد می گردند.

**وضع ماليه و سهميۀ تقاعد**

**مادۀ دهم:**

(۱) معاش مقامات عالی رتبه دولتی مندرج اين قانون مطابق احکام قانون، تابع پرداخت ماليه می باشد.

(۲) معاش رئيس و اعضای ستره محکمه در دورۀ خدمت و بعد از آن، مطابق احکام قانون، تابع پرداخت ماليه می باشد.

(۳) په دې قانون کې د درج شوو دولتي عالي رتبه مقاماتو او د سترې محکمې د غړو له معاش څخه د خدمت په دوره کې او وروسته له هغې، د اړوند تقنيني سند مطابق د تقاعد ونډه وضع او د هغه ټاکلي حساب ته لېږدول کېږي، د ملي شورئ غړي له دې حکم څخه مستثنئ دي.

(۴) ددې قانون په درييمه او څلورمه ماده کې د درج شوو مقاماتو د تقاعد حقوق د اړوند تقنيني سند مطابق سنجول او ورکول کېږي.

(۵) د سترې محکمې د رئيس او د غړو د تقاعد حقوق، له مدني حقوقو څخه په حرمان د محکوميت پربنسټ، د مالي حقوقو د قطع کېدو په صورت کې، د اړوند تقنيني سند د حکمونو مطابق، هغوی ته او له مړينې وروسته، د هغو مستحقو پاتې کسانو ته ورکول کېږي.

## د تعليق دوره

**يوولسمه ماده:**

په دې قانون کې د درج شوو دولتي عالي

(۳) از معاش مقامات عالی رتبه دولتی مندرج این قانون و اعضای ستره محکمه در دورۀ خدمت و بعد از آن، طبق سند تقنینی مربوط سهمیۀ تقاعد وضع و به حساب معینه آن انتقال می یابد، اعضای شورای ملی از این حکم مستثنی می باشد.

(۴)حقوق تقاعد مقامات مندرج مادۀ سوم وچهارم این قانون، طبق سند تقنینی مربوط سنجش و پرداخته می شود.

(۵) حقوق تقاعد رئیس واعضای ستره محکمه در صورت قطع حقوق مالی به اساس محکومیت به حرمان از حقوق مدنی طبق احکام سند تقنینی مربوطه به آنها و بعد از وفات، به بازماندگان مستحق آنها پرداخته می شود.

## دورۀ تعلیق

**مادۀ یازدهم:**

حقوق و امتیازات مقامات عالی رتبه

رتبه مقاماتو حقوق او امتیازونه د تعلیق (توقیف، تحقیق او محاکمې) پــه دوره کې، د کار په قانون کې د درج شــوو حکمونو مطابق، تنظیمیږي.

د معاش زیاتېدل او یا کمېدل

دوولسمه ماده:

په دې قانون کې د درج شوو دولتي عالي رتبه مقاماتو د معاش انــدازه د ملکــي خدمتونو په قانون کې د بدلونونو تابع ده او په هر نسبت چې په هغه کي زیاتوالی یا کموالی راشي په همغه اندازه کمېږي او یا زیاتېږي.

د انفاذ نېټه

دیارلسمه ماده:

دغه قانون له توشېح له نېټی څخه نافذ او په نافذېدو سره یې د ۱۴۲۲هـ- ق / د صفرالمظفر/ د ۸ نېټې په (۷۹۷) گڼــه رسمي جریده کې خپور شوي د امارتي عالي مقاماتو د معاشونو قانون ملغي گڼل کېږي.

دولتی منــدرج ایــن قــانون در دورۀ تعلیق(توقیف، تحقیق و محاکمه) مطابق احکام منــدرج قــانون کــار تنظــیم می گردد.

افزایش و یا کاهش معاش

مادۀ دوازدهم:

اندازۀ معاش مقامات عالی رتبه دولتــی مندرج این قانون تابع تغییرات قــانون کارکنان خدمات ملکی بوده و به هــر نسبت که در آن افزایش و یا کاهش به عمل آید، به همان تناسب کــاهش یــا افزایش می یابد.

تاریخ انفاذ

مادۀ سیزدهم:

این قانون ازتــاریخ توشــیح نافــذ و بــا انفــاذ آن قــانون معاشــات مقامات عالی امارتی منتــشرۀ جریــدۀ رسمی شماره (۷۹۷)مـؤرخ ۸/صــفر المظفر /۱۴۲۲هــ ق ملغی شــمرده می شود.

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس د معاش او لګښتونو د تنظيم د قانون د توشېح په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس

فرمان

ګڼه: (۴۸)

نېټه: ۱۳۹۲/۵/۱۶

لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون د (۶۴) مادې د (۱۶) فقرې د حکم له مخې، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس د معاش او لګښتونو د تنظيم قانون چې د ملي شوري د مجلسينو د ګډ هيئت د ۱۳۹۲/۴/۳۰ نېټې (۹۸) ګڼې پرېکړې پربنسټ، په (۴) فصلونو او (۱۹) مادوکې تصويب شوی دی، توشېح کوم.

دوه يمه ماده:

دغه فرمان، له قانون او د ملي شوري د مجلسينو ګډ هيئت له پرېکړې سره يوځای، له خپرېدو وروسته په رسمي جريده کې نافذېږي.

حامد کرزی

د افغانستان داسلامي جمهوريت رئيس

فرمان

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح قانون تنظيم معاش و مصارف رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

شماره: (۴۸)

تاريخ: ۱۳۹۲/۵/۱۶

مادهٔ اول:

به تأسی از حکم فقرهٔ (۱۶) مادهٔ (۶۴) قانون اساسی افغانستان، قانون تنظيم معاش و مصارف رئيس جمهوری اسلامی افغانستان که براساس فيصلهٔ شماره (۹۸) مؤرخ ۱۳۹۲/۴/۳۰ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی به داخل (۴) فصل و (۱۹) ماده تصويب گرديده است، توشيح می دارم.

مادهٔ دوم:

اين فرمان، همراه با قانون و فيصلهٔ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی بعد از نشر در جريدهٔ رسمی نافذ می گردد.

حامد کرزی

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوریٰ

فیصله

دافغانستان داسلامي جمهوريت رئیس د معاش او لګښتونو د تنظیم قانون

ګڼه: (۹۸)

نېټه: ۳۰/ ۴/ ۱۳۹۲

د افغانستان د اساسي قانون د سلمې مادې له درج شوي حکم سره سم، د ملي شوریٰ د دواړو غونډو له اوو، اوو غړو څخه جوړ شوي ګډ هیئت د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس د معاش او لګښتونو د تنظیم قانون په (۴) فصلونو او (۱۹) مادو کې د ۱۳۹۲ کال د چنګاښ د میاشتې په (۳۰) نېټې د یکشنبې د ورځې په غونډه کې فیصله کړ.

د ګډ هیئت رئیس

مولوي عبدالوهاب عرفان

د ګډ هیئت مرستیال

څارنیال محمد سرور عثماني فراهي

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

فیصله

قانون تنظیم معاش و مصارف رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

شماره: (۹۸)

تاریخ: ۱۳۹۲/۴/۳۰

به تأسی از حکم مندرج مادۀ صدم قانون اساسی افغانستان، هیئت مختلط مجلسین شورای ملی به ترکیب هفت، هفت نفر از اعضای هر جرگه قانون تنظیم معاش و مصارف رئیس جمهوری اسلامی افغانسان را به داخل (۴) فصل و (۱۹) ماده در جلسۀ روز یکشنبه مؤرخ (۳۰) ماه سرطان سال ۱۳۹۲ فیصله نمود.

رئیس هیئت مختلط

مولوی عبدالوهاب عرفان

معاون هیئت مختلط

څارنیال محمد سرور عثمانی فراهی

## فهرست مندرجات

## قانون تنظیم معاش و مصارف

## رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنی | ۱۱ |
| مادهٔ دوم: | هدف | ۱۱ |
| **فصل دوم** | | |
| **معاش و مصارف رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در دورهٔ خدمت** | | |
| مادهٔ سوم : | معاش | ۱۲ |
| مادهٔ چهارم: | مصارف | ۱۲ |
| مادهٔ پنجم: | اجرای معاش و مصارف | ۱۲ |
| **فصل سوم** | | |
| **حقوق مالی رئیس جمهور بعد از دورهٔ خدمت** | | |
| مادهٔ ششم: | حقوق مالی | ۱۳ |
| مادهٔ هفتم: | مرجع پرداخت | ۱۴ |
| مادهٔ هشتم: | مسکن | ۱۴ |
| مادهٔ نهم: | تأمین امنیت | ۱۶ |
| مادهٔ دهم: | تأمین خدمات صحی | ۱۶ |
| مادهٔ یازدهم: | استفاده از پاسپورت سیاسی | ۱۷ |

مادۀ دوازدهم: تشریفات.......................................۱۷
مادۀ سیزدهم: قطع حقوق مالی...................................۱۸

فصل چهارم

احکام متفرقه

مادۀ چهاردهم: مسکن رئیس جمهور در دورۀ خدمت.............۱۹
مادۀ پانزدهم: تحایف.......................................۱۹
مادۀ شانزدهم: مالیه و سهمیۀ تقاعد...........................۲۰
مادۀ هفدهم: افزایش یا کاهش معاش............................۲۰
مادۀ هجدهم: ساحۀ تطبیق.......................................۲۱
مادۀ نزدهم: تاریخ انفاذ.......................................۲۱

# د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس د معاش او لګښتونو د تنظيم قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د اويايمې مادې د حکم له مخې، وضع شوی دی.

**موخه**

**دوه يمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱- د خدمت په دوره کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس د معاش او لګښتونو ټاکل.

۲- د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس د خدمت د دورې له پای ته رسېدو وروسته د ژوندانه د پاتې مودې لپاره د مالي حقوقو ټاکل.

# قانون تنظيم معاش و مصارف رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

اين قانون به تأسی ازحکم مادۀ هفتادم قانون اساسی افغانستان، وضع گرديده است.

**هدف**

**مادۀ دوم:**

اهداف اين قانون عبارت است از:

۱- تعيين معاش و مصارف رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در دورۀ خدمت.

۲- تعيين حقوق مالی رئيس جمهوری اسلامی افغانستان بعد از ختم دورۀ خدمت برای بقيه مدت حيات.

## دوه یم فصل

## د خدمت په دوره کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس معاش او لګښتونه

**معاش**

**درېيمه ماده:**

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس معاش د ملکي خدمتونو د مامور د لوړ بست د مياشتني معاش پربنسټ په (۱۵) ضريب سره محاسبه او ټاکل کېږي.

**لګښتونه**

**څلورمه ماده:**

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس شخصي مياشتني لګښتونه ددې قانون په درېيمه ماده کې د درج شوي معاش معادل ټاکل کېږي.

**د معاش او لګښتونو اجراء**

**پنځمه ماده:**

په دې قانون کې درج شوي د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس معاش، لګښتونه او نور امتيازونه د تحليف د

## فصل دوم

## معاش و مصارف رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در دورۀ خدمت

**معاش**

**مادۀ سوم:**

معاش رئيس جمهوری اسلامی افغانستان به اساس بلند ترين معاش ماهوار بست مامورخدمات ملکی با ضريب(۱۵) محاسبه وتعيين می گردد.

**مصارف**

**مادۀ چهارم:**

مصارف ماهوار شخصی رئيس جمهوری اسلامی افغانستان معادل معاش مندرج مادۀ سوم اين قانون تعيين می گردد.

**اجرای معاش و مصارف**

**مادۀ پنجم:**

معاش، مصارف و سايرامتيازات رئيس جمهوری اسلامی افغانستان مندرج اين قانون از تاريخ اجرای مراسم تحليف قابل

مراسمو له نېټې څخه د اجراء وړ دي.

## دريېم فصل

## د خدمت له دورې وروسته د جمهوررئيس مالي حقوق

**مالي حقوق**

**شپږمه ماده:**

(۱) د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس، له دندې څخه د عزل د حالت په استثنیٰ، د خدمت د دورې له پای ته رسېدو وروسته د ژوندانه د پاتې مودې لپاره د لاندې مالي حقوقو مستحق دی:

۱- ددې قانون په دريېمه او څلورمه ماده کې درج شوی معاش او لګښتونه.

۲- مناسب استوګنځی د هغهٔ د ساتنې او څارنې له تأمين سره.

۳- د امنيت تأمينول.

۴- د روغتيايي خدمتونو تأمينول.

۵- د روغنياتو له لګښتونو سره د حمل او نقل له مناسبې وسيلې څخه ګټه اخيستنه.

۶- له سياسي پاسپورت څخه ګټه اخيستنه.

اجراء می باشد.

## فصل سوم

## حقوق مالی رئیس جمهور بعد از دورهٔ خدمت

**حقوق مالی**

**مادهٔ ششم:**

(۱)رئیس جمهوری اسلامی افغانستان به استثنای حالت عزل از وظیفه، بعد از ختم دورهٔ خدمت برای بقیه مدت حیات مستحق حقوق مالی ذیل می باشد:

۱- معاش و مصارف مندرج مواد سوم وچهارم این قانون.

۲- مسکن مناسب با تأمین حفظ و مراقبت آن.

۳- تأمین امنیت.

۴- تأمین خدمات صحی.

۵- استفاده از وسیلهٔ حمل و نقل مناسب با مصارف روغنیات .

۶-استفاده از پاسپورت سیاسی.

۷-د دفتر جوړول، د يو سکرتر، دوه دستياران، يوچلوونكی،دوه خدمه،يو باغوان، يو آشپز او يو دآشپز مرستندوی سره.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مالي حقوق د نوي جمهوررئيس د تحليف د مراسمو د اجراء له نېټې څخه د اجراء وړ دي.

## د ورکړې مرجع

**اوومه ماده:**

ددې قانون په شپږمه ماده کې درج شوي مالي حقوق د چارو د ادارې او وزيرانو شورئٰ د دارالانشاء د عمومي رياست د بودجې له لارې تنظيم او اجراء کېږي.

## استوګنځی

**اتمه ماده:**

(۱) که چېرې جمهور رئيس د خدمت د دورې له پای ته رسېدو وروسته په خپل شخصي استوګنځي کې ژوند ونه کړي او يا د مناسب استوګنځي مالک نه وي، د چارو د ادارې او وزيرانو شوري د دارالانشاء عمومي رياست مکلف دی، له

۷- ايجاد دفتر با يک سکرتر، دو دستيار، يک راننده، دو خدمه، يک باغبان، يک آشپز و يک دستيار آشپز.

(۲) حقوق مالی مندرج فقرۀ (۱) اين ماده از تاريخ اجرای مراسم تحليف رئيس جمهورجديد، قابل اجراء می باشد.

## مرجع پرداخت

**مادۀ هفتم:**

حقوق مالی مندرج مادۀ ششم اين قانون از طريق بودجۀ رياست عمومی ادارۀ امورو دارالانشای شورای وزيران تنظيم و اجراء می گردد.

## مسکن

**مادۀ هشتم:**

(۱) هرگاه رئيس جمهوربعد از ختم دورۀ خدمت در مسکن شخصی خود زندگی نکند ويا مالک مسکن مناسبی نباشد، رياست عمومی ادارۀ امور و دارالانشای شورای وزيران مکلف است ، در مشورت با وی مسکن

هغهٔ سره په مشوره کې مناسب استوګنځی برابر او د هغهٔ په واک کې ورکړي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حالت کې د چارو د ادارې او وزیرانو شوري د دارالانشاء عمومي رياست له غوښتنې سره سم، د پخوانې جمهور رئیس د کور لاندې لوازم او آسانتياوې برابر وي:

۱- د اړتيا وړ فرنيچر.

۲- د ځمکني ټېلفون دوه مزي (لینونه) د مياشتنيو لګښتونو له ورکړې سره.

۳- د همراه ټيلفون يو سيټ، د وزيرانو معادل د مياشتنيو لګښتونو په ورکړې سره.

۴- د انټرنټ د نوري فايبر يومزی.

۵- پُستي صندوق.

۶-چاپي ورځپاڼې.

۷- د اوبو، برېښنا او تسخين لګښت.

۸-په مېز اوڅوکۍ سمبال دفتر،څلور پايې کمپيوترونه، يوه پايه تور اوسپين پرنتر، يوه پايه رنګه پرنتر، يوه پايه د فوتوکاپۍ ماشين، يوه پايه اسکنر او يوه پايه دفلمبردارۍ (فلم اخيستلو) کمره د هغو

مناسب را تهیه و در اختيار وی قرار دهد.

(۲) درحالت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده رياست عمومی ادارهٔ امور و دارالانشای شورای وزيران حسب تقاضا، لوازم و تسهيلات ذيل منزل رئيس جمهور اسبق را فراهم می نمايد:

۱- فرنيچر مورد نياز.

۲- دولين تيلفون زمينی با پرداخت مصارف ماهانه.

۳- يک سيت تيلفون همراه با پرداخت مصارف ماهانه، معادل وزراء.

۴-يک لين انترنت فايبر نوری.

۵- صندوق پستی .

۶- روزنامه های چاپی .

۷- مصرف آب ،برق و تسخين.

۸- دفتر مجهز با ميز و چوکی، چهارپايه کمپيوتر، يک پايه پرنتر سياه و سفيد، يک پايه پرنتر رنگه، يک پايه ماشين فوتوکاپی، يک پايه اسکنر و يک پايه کمرهٔ فلمبرداری به شمول مصارف حفظ و

دساتنې او څارنې د لګښتونو په شمول.

## د امنیت تأمینول

**نهمه ماده:**

د جمهوري رياست د محافظت او امنيت رياست، مکلف دی له اړتيا سره سم او د چارو د ادارې او وزيرانو شورې د دارالانشاء عمومي رياست په تجويز د پخواني جمهور رئيس او د هغهٔ د کورنۍ امنيت تأمين کړي.

## د روغتيايي خدمتونو تأمينول

**لسمه ماده:**

د عامې روغتيا وزارت مکلف دی، د پخواني جمهور رئيس او د کورنۍ غړو (مېره او مېرمن، زوی او لور ته چې له ده سره ژوند وکړي) وړيا روغتيايي خدمتونه تأمين کړي او د هېواد په دننه کې د درملنې د نه شونتيا په صورت کې، د شخص جمهور رئيس د درملنې زمينه په بهرکې په دولتي لګښتونو سره برابره کړي.

مراقبت آنها.

## تأمین امنیت

**مادهٔ نهم:**

رياست محافظت و امنيت رياست جمهوری، مکلف است حسب ضرورت و تجويز رياست عمومی ادارهٔ امور ودارالانشای شورای وزيران، امنيت رئيس جمهور اسبق و خانوادهٔ وی را تأمين نمايد.

## تأمين خدمات صحی

**مادهٔ دهم:**

وزارت صحت عامه مکلف است خدمات صحی رايگان را برای رئيس جمهور اسبق و اعضای خانوادهٔ وی (همسر، پسرو دختری که با وی زندگی نمايند) تأمين نموده و در صورت عدم امکان معالجه در داخل کشور، زمينهٔ تداوی شخص رئيس جمهور را در خارج کشور با مصارف دولتی مساعد سازد.

## له سیاسي پاسپورټ څخه ګټه اخیستنه

### یوولسمه ماده:

(۱) د بهرنیو چارو وزارت مکلف دی له هېواد څخه بهر ته د پخواني جمهور رئیس او د هغهٔ د مېرمنې دسفر په وخت کې د اړوند تقنیني سند د حکمونو مطابق، سیاسي پاسپورټ د هغوی په واک کې ورکړي.

(۲) پخوانی جمهور رئیس په رسمي سفرونوکې، د اړوند تقنیني سند دحکمونو مطابق، له رتبې څخه د وتلي بست معادل کرایې او سفرېې مستحق کېږي.

## تشریفات

### دوولسمه ماده:

(۱)د هېواد په دننه کې په عقد شوو ملي او بین المللي غونډو او مناسبتونوکې د پخواني جمهور رئیس تشریفاتي ځای، د وزیرانو، ملي شورې او سترې محکمې د غړو له ردیف څخه پورته وي.

(۲) که چېرې د پخوانیو جمهور رئیسانو شمېر له یوهٔ تن څخه زیات وي، هغه

## استفاده از پاسپورت سیاسی

### مادهٔ یازدهم:

(۱) وزارت امور خارجه مکلف است حین مسافرت رئیس جمهور اسبق و همسر وی به خارج کشور، پاسپورت سیاسی را طبق احکام سند تقنینی مربوط به دسترس آنها قرار دهد.

(۲) رئیس جمهور اسبق در سفر های رسمی، طبق احکام سند تقنینی مربوط، مستحق کرایه و سفریهٔ معادل بست خارج رتبه می گردد.

## تشریفات

### مادهٔ دوازدهم

(۱) جایگاه تشریفاتی رئیس جمهور اسبق در جلسات و مناسبت های ملی و بین المللی منعقدهٔ داخل کشور بالاتر از ردیف وزراء، اعضای شورای ملی و ستره محکمه می باشد.

(۲) هرگاه تعداد رؤسای جمهور اسبق بیش از یک نفر باشد، رئیس جمهوری

جمهور رئيس چې د خدمت دوره يې اوس اوس پای ته رسېدلې وي بالترتيب په لومړي رديف کې ځای نيسي.

د مالي حقوقو قطع کېدل

ديارلسمه ماده:

په دې فصل کې درج شوي مالي حقوق په لاندې حالاتوکې قطع کېږي:

۱- د تابعيت پرېښودل يا د بهرني تابعيت اخيستل.

۲- د واکمنې محکمې په حکم، له مدني حقوقوڅخه محروميت.

## څلورم فصل

## متفرقه حکمونه

د خدمت په دوره کې د جمهوررئيس استوګنځی

څوارلسمه ماده:

د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس او کورنۍ يې د خدمت په دوره کې د کابل په ښارکې د ارګ په تاريخي ماڼۍ کې استوګنه کوي.

که دورهٔ خدمت اش اخيراً خاتمه يافته باشد، بالترتيب در رديف مقدم قرار می گيرد.

قطع حقوق مالی

مادهٔ سيزدهم:

حقوق مالی مندرج اين فصل در حالات ذيل قطع می گردد:

۱- ترک تابعيت يا گرفتن تابعيت خارجی.

۲-محروميت از حقوق مدنی به حکم محکمهٔ باصلاحيت.

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

مسکن رئيس جمهور در دورهٔ خدمت

مادهٔ چهاردهم:

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان و خانواده اش در دورهٔ خدمت در قصر تاريخی ارگ در شهر کابل سکونت اختيار می نمايد.

**سوغاتونه**

**پنځلسمه ماده:**

هغه سوغاتونه او يادګارونه چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس ته ورکول کېږي او مالي يا معنوي ارزښت يې، ددې قانون په درېيمه ماده کې د درج شوي معاش له اندازې څخه زيات وي، له احوالو سره سم د عامه ملکيت په توګه د ارګ د تاريخي ماڼۍ په آرشيف يا ملي موزيم کې، ساتل کېږي.

**ماليه او د تقاعد ونډه**

**شپاړسمه ماده:**

(۱) د خدمت په دوره کې او له هغې وروسته د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس له معاش او لګښتونو څخه د قانون د حکمونو مطابق ماليه وضع کېږي.

(۲) د خدمت په دوره کې او له هغې وروسته د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس له معاش څخه، د اړوند تقنيني سند مطابق د تقاعد ونډه وضع کېږي.

(۳) د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس د تقاعد حقوق، د مالي حقوقو د

**تحايف**

**مادۀ پانزدهم:**

تحايف و يادگاری های که به رئيس جمهوری اسلامی افغانستان اعطاء ميگردد و ارزش مالی يا معنوی آن بيشتر ازاندازۀ معاش مندرج مادۀ سوم اين قانون باشد، به حيث ملکيت عامه حسب احوال درآرشيف قصر تاريخی ارگ يا موزيم ملی، حفظ می گردد.

**ماليه و سهيمۀ تقاعد**

**مادۀ شانزدهم:**

(۱) از معاش و مصارف رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در دورۀ خدمت و بعد از آن مطابق احکام قانون ماليه وضع می گردد.

(۲)ازمعاش رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در دورۀ خدمت و بعد از آن طبق سند تقنينی مربوطه سهميۀ تقاعد وضع می گردد.

(۳) حقوق تقاعد رئيس جمهوری اسلامی افغانستان، درصورت قطع

قطع کېدو په صورت کې ددې قانون د دیارلسمې مادې د (۲) جزء پربنسټ، د اړوند تقنيني سند د حکمونو مطابق هغهٔ ته او له وفات وروسته د هغهٔ مستحقو پاتې کسانو ته ورکول کېږي.

## د معاش زیاتېدل یا کمېدل

**اوولسمه ماده:**

په دې قانون کې د درج شوي معاش او مالي حقوقو اندازه، د ملکي خدمتونو د کارکوونکو په قانون کې د بدلونونو تابع ده او په هر نسبت چې په هغــه کــې زیاتوالی یا کموالی راشي په همغه اندازه د جمهور رئیس معاش او مــالي حقــوق کموالی یا زیاتوالی مومي.

## د تطبیق ساحه

**اتلسمه ماده:**

ددې قانون حکمونه د هغــو جمهــور رئیسانو په هکله چــې د افغانــستان د اساسي قانون د حکمونو مطابق غــوره شوي وي، د تطبیق وړ دي.

حقوق مالی بر اساس جزء (۲) مــادهٔ سیزدهم این قانون طبق احکــام ســند تقنینی مربوطه به وی وبعداز وفات بــه بازمانــدگان مــستحق وی پرداختــه می شود.

## افزایش یا کاهش معاش

**مادهٔ هفدهم:**

اندازهٔ معاش و حقوق مالی مندرج این قانون تابع تغییرات در قانون کارکنــان خدمات ملکی بوده و به هر نسبت که در آن افزایش و یا کاهش صورت گیرد به همان تناسب معــاش و حقــوق مــالی رئیس جمهــور افــزایش یــا کــاهش می یابد.

## ساحهٔ تطبیق

**مادهٔ هجدهم:**

احکام این قانون در مــورد رؤســای جمهوری که مطابق به احکــام قــانون اساسی افغانستان، انتخاب گردیده اند، قابل تطبیق می باشد.

**د انفاذ نېټه**

**نولسمه ماده:**

دغه قانون په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

**تاريخ انفاذ**

**مادۀ نزدهم:**

اين قانون ازتاريخ نشردرجريدۀ رسمی نافذ می گردد.

# اشتراک سالانه:

**در مرکـــــــز و ولایـــــــات :	(۹۰۰) افغـــــــانی**

**بـــــرای مـــــامورین دولـــــت: بـــــا ۲۵ فیـــــصد تخفیـــــف**

**برای متعلمین و محصلین با ارائـــه تـــصدیق، نـــصف قیمـــت**

**برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد**

**خـــــارج از کـــــشور:	(۲۰۰) دالـــــر امریکـــــائی**

ISLAMIC REPUBLIC
OF
AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

## Extraordinary Issue

- Law for Regulating Salaries of the Government High Ranking Officials
- Law on Regulating the Salary and Expenditure of the President of Islamic Republic of Afghanistan

Date: ٣٠th *OCTOBER.* ٢٠١٣
ISSUE NO :(١١٢١)